هفته واره رساله



# د رَمَضَانُ المُبَارَک سینګار




- د مولیٰ علي د فاروق اعظم (رضی اللہ عنہما) د پاره دُعا
- د مسجدُ الحرام شریف سینګار
- د جوماتونو د روښانه کولو فضیلت
- د روژې د میاشتې سره د محبت ځانګړے مثال

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

## د رَمَضَانُ المُبَارَک سينګار

دُعائے عطّار: يا رَبِّ المُصطفٰے! څوک چې دا رساله " د رَمَضَانُ المُبَارَک سينګار" ولولي يا واوري هغه د روژې د مياشتې پۀ صحيح معنو کښې قدردان جوړ کړې او د هغۀ قبر روښانه کړې او د هغۀ سره د مور او پلار د خپل خوږ اخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره بے حسابه بے کتابه پۀ جَنَّتُ الفردوس کښې ګاؤنډ نصيب کړې- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

## د دُرُود شريف فضيلت

د مسلمانانو د وړومبي خليفه، حضرت سَيِّدُنا ابو بکر صِدِّيق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمان مبارک دے چې پۀ ما باندې دُرُودِ پاک لوستل ګناهونه داسې زر ورانوي چې اوبۀ هم وور دومره زر نۀ مړ کوي او پۀ نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې سلام ليږل د څټونو (يعني د غلامانو) د ازادولو نه افضل دي- (تاريخ بغداد، 172/7، رقم 3607)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ علٰى مُحَمَّد

## د مولٰى علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د فاروقِ اعظم رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د پاره دُعا

حضرت ابو اِسحاق همداني رَحمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: (د مسلمانانو څلورم خليفه) اميرُ المُؤمِنِين حضرت علي المُرتضٰى شيرِ خُدا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د رَمَضَانُ المُبَارَک پۀ وړومبۍ شپه بهر تشريف يوړلو نو اوئې کتل چې پۀ جوماتونو باندې ډيوې بلې دي او خلق د قرآنِ کريم تلاوت کوي- پۀ دې ليدلو حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وفرمائيل:

’’نَوَّرَ اللّٰهُ لَكَ يَا عُمَرَ ابْنَ الْخَطَّابِ فِيْ قَبْرِكَ كَمَا نَوَّرْتَ مَسَاجِدَ اللّٰهِ بِالْقُرْآنِ یعني اے امیرُ المُؤمِنِین حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ! الله پاک دې ستاسو قبر هم داسې روښانه کړي لکه څنګه چې تاسو جوماتونه د قرآنِ کریم د تِلاوت د پاره روښانه کړه-‘‘ (موسوعه ابن ابي الدنیا، 369/1، رقم 30) د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي ټولو باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ہر طرف نور چھانے والا ہے مرحبا چار سُو اجالا ہے
غمزدہ دل کی کھل اُٹھیں کلیاں واہ! کیا بات ماہِ رمضاں کی

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ على مُحَمَّد

## د درووند میلمه هر کلے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د رَمَضَانُ المُبَارَک د عظمت او د شان به څهٔ وایې، دا میاشت د ډیرو برکتونو، رحمتونو او د بخښنو خزانه ده- الله پاک په دې مبارکه میاشت کښې خپل فضل او کرم په خپلو بندګانو باندې دومره زیات کړے دے چې د جَنَّت دروازې برسیره کوي او د دوزخ دروازې بندوي یواځې دا نهٔ بلکې د نیکو اَجر او ثواب هم ډیر چنده زیاتوي- د رَمَضَانُ المُبَارَک په روژه دارو باندې که ورځ وي او که شپه د الله پاک رحمت راوریږي خو د الله پاک دا مهربانه میاشت صرف د ”29“ یا د ”30“ ورځو وي، عام طور چې کله څوک میلمه زمونږ کور ته راځي نو مونږ د هغهٔ په ښه طریقه هر کلے کوو او قدر مدارېې کوو او که څوک ډیر درووند او د احترام قابل میلمه راشي کوم چې مونږ له مختلفې تحفې او د خوراک څښاک قِسما قِسم څیزونه راکړي نو د داسې میلمه د هر کلي انداز هم جُدا وي- د الله پاک د طرف نه راعطا کړے شوے ”رَمَضَانُ المُبَارَک“ زمونږ د ګنهګارو د

پاره یو عزت مند، محترم او مهربانه میلمه دے، ځکه د دې مبارکې میاشت په راتلو باندې په ټوله دُنیا کښې مسلمانان د روژې عاشقان د خپلو ملکونو، ښارونو، علاقو، جوماتونو او کورونو په سینګارولو او خوشحالۍ کوونکې په نظر راځي او ولې به یې نۀ کوي چې دا مبارکه میاشت ده د دومره برکتونو، رحمتونو او د بخښلو والا چې د دې مبارکې میاشت په راتلو باندې خوشحالیدل، یو بل له اُمبارکي ورکول د سُنَّت نه (ثابت) دي- (مرآۃالمناجیح،3/137)

د مسلمانانو دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ به (د رمضان المُبارک په راتلو باندې) فرمائیل: " هٰغه میاشتې ته هر کلےوایو کومه چې زمونږه پاکوونکې ده-" (تنبیه الغافلین، ص177)

آیا رمضان آگیا رمضاں واہ! کیا بات ماہِ رمضان کی
جان رمضان پر مِری قرباں واہ! کیا بات ماہِ رمضان کی

## د مسجد الحرام شریف سینګارول

تقریباً پاؤ کم اته سوه [775] کاله مخکښې تیر شوے مشهور تاریخ دان سیلانے ابو عبد الله محمد بن عبدُ الله المَعروف اِبنِ بطوطه لیکلي دي: په مکه مکرمه کښې د اوسیدونکو عادت دے چې کله د رَمَضَانُ المُبَارَک میاشت ولیدلے شي نو ډیرې خوشحالۍ کیږي، مسجد الحرام شریف (په کوم مبارک جومات کښې چې خانه کعبه شریفه موجوده ده د هغې) په فرش باندې نوې چټائیانې غوړولے شي، دومره ډیرې شمعې او مشالونه لګولے شي چې د جومات په رڼاګانو ځلیږي، په جومات مبارک کښې محفلونه کیږي، هر طرف ته خوشحالۍ وي- د څلور واړو مذهبونو (یعنې حنفي، شافعي، مالکي او حنبلي) عاشقانِ رسول په خپلو خپلو امامانو پسې نمونځونه ادا کوي، په مسجد الحرام شریف کښې د قرآنِ کریم د تِلاوت

کوونکو اوازونه راځي، د کوم سره چې په زړونو کښې نرمي پيدا کيږي او سترګې نمژنې کيږي- بعضې خلق صرف د خانه کعبې په طواف کښې مشغوليږي او بعضې خلق په حطيم کښې ځانله په نـمونځ کولو کښې مصروف اوسي- شافعي عاشقانِ رسول عادت دے چې هغوئي د تراويح نـمونځ ادا کړي او بيا د خپل اِمام سره د خانه کعبې طواف کوي-

د پيشمني په وخت د مسجدِ حرام په مشرقي مُناره مقرر زمزمي مؤذِن خلقو له د پيشمني ترغيب ورکوي- د هرې مُنارې په سر باندې د لرګي بَش لګيدلے وي په کوم پسې چې د شيشې دوه غټې ډيوې لګولے شوې وي او رازوړندې کړے شوې وي، کله چې د سحر وخت رانزدې شي نو هُغه ډيوې يوه يوه لاندې کولے او مړې کولے شي او بيا اذان کولے شي- د مکې مکرمې هُغه کورونه کوم چې د مسجد الـحرام شريف نه لرې وي، او هلته د اذان اواز نۀ رسي، هُغه عاشقانِ رسول په هُغه بَلو ډيوو ليدو پيشمني کوي او کله چې دا په نظر نۀ راځي نو خوراک څښاک پريږدي-

د مهرباني مياشت، د رمضان د مياشتې د اخرۍ عشرې په طاق شپو کښې د قرآنِ کريم ختم کولے شي په هغې کښې د اِسلام قاضي، علمائے کرام او د ښار لوئي لوئي خلق شرکت کوي- په دې محفلونو کښې د مکې مکرمې د اعلیٰ خاندانونو په ماشومانو باندې ختم کولے شي، د دې نه پس په ريښمو باندې ښائسته کړے شوے منبر جوړولے شي او شمع بلولے شي بيا هُغه ماشوم (کوم چې د قرآن ختم کړے وي هغه) خطبه (يعنې د نيکۍ دعوت) ورکوي- د دې نه پس د ماشوم پلار خلقو ته د هغوئي کور ته د تللو دعوت ورکوي او په کور کښې د هُغه خلقو ميلمستيا کوي او په هغوئي ښه خوراکونه او مټهائيانې خوري- د روژې

د میاشتې په تړوله اخرۍ عشره (کومې ته چې د دوزخ نه د ازادۍ عشره وئیلے شي) د دې په طاقو شپو کښې هم دا معمول وي۔

## د اوویشتمې شپې خاص اِنتظام

د مکې والؤ په نزد اوویشتمه شپه (لیلۃُ القدر) د ټولو نه عظیمه شپه وي هغوئې د دې مبارکې شپې اِنتظام د نورو شپو نه ډیر کوي۔ په دې مبارکه شپه کښې د مقامِ اِبراهیم شاته د قرآنِ کریم ختم کیږي۔ په حرمِ پاک کښې د غټ درې منزله لرګې په ډانچه باندې ډیوې او شمعې دومره ډیرې لګولے شي چې د هغې رڼا سترګې بریښوي۔ په 29 شپه د فقۀ مالکي اِمام د خپل قرآنِ کریم ختم کوي دا د ریا نه پاک یو ډیر عزت مند محفل وي۔ (رحلۃ ابنِ بطوطه، ص102 ملخصاً)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! تاسو وکتل چې نن په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې چې څوک جوماتونه ښائسته کوي او چراغان پکښې کوي دا څۀ نوې خبره نۀ ده بلکې د نن نه سوونه کاله مخکښې په مسجد الـحرام شریف کښې به هم رڼاګانې کیدلې او اوس هم په ډیرو ملکونو کښې جوماتونه او کورونه د رَمَضَانُ المُبَارَک په راتللو ښائسته کولے شي بلکې زمونږ د خوږ اخري نبي، مکي مَدَني مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ظاهري زمانه کښې هم د جوماتونو روښانه کولو روایتونه موجود دي لکه څنګه چې

## په مسجد نَبَوي کښې د ډیوو شروع

د صحابئ نبي، حضرت تمیم داري رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د غلام سراج رَضِیَ اللہُ عَنْہُ بیان دے چې د رسولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په جومات کښې به د کجورو په څانګو او په پاڼو رڼا کیدله۔ مونږ به قندیلونه (یو قِسم له فانوس په کوم کښې چې ډیوې بلولے شي) د خونۀ [زیتون] تیل او رسۍ راوړې او ما (د قندیلونو په رازوړندولو) په جومات کښې

رڼا اوکړه- رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې دا ولیدل نو پوښتنه یې اوکړه چې زمونږ جومات چا روښانه کړے دے؟ حضرت تمیم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ عرض اوکړو: زما دې غلام- نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پوښتنه اوکړه: ستا څهٔ نوم دے؟ ما عرض اوکړو: فَتح- رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: بلکې د دهٔ نوم سراج دے- بس رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما نوم سراج کیښودو-

(وفاء الوفا، 596/1 ملخصاً، الاستیعاب، 242/2 ملخصاً)

د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## جوماتونه پهٔ رڼا باندې د ښائسته کولو رواج ډېر پخوانے دے

حضرت مفتي احمد یار خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ پهٔ خپل د قرآنِ کریم پهٔ مشهور تفسیر "**نُورُ العِرفان**" کښې لیکلي دي: حضرت سلیمان عَلَیۡہِ السَّلَام به پهٔ بیتُ المُقدَّس کښې داسې رڼا کوله چې پهٔ میلونو لرې به زنانؤ د هغې پهٔ رڼا کښې چې ثرخه ورڅله یعني د مالوچو نه به ورِی یا تار جوړولو- حضرت سلیمان عَلَیۡہِ السَّلَام پهٔ بیتُ المُقدس کښې د کِبریتِ اَحمر (سرو ګوګړو) رڼا اوکړه د کومې رڼا چې به دولس مُربَّع میل وه او هغه یې پهٔ سپینو او سرو زرو ښائسته کړو- (تفسیر نور العرفان، ص301)

د قرآن پهٔ تفسیر روحُ البیان کښې دي: حضرت سلیمان عَلَیۡہِ السَّلَام پهٔ جومات کښې یو زر اوؤهٔ سوه [1700] "**د سرو زرو قندیلونه**" د سپینو زرو پهٔ زنځیرونو د رازوړندولو حکم کړے وو- (تفسیر روح البیان، پ10، التوبة، تحت الآیة: 18، 400/3)

## د جوماتونو د روښانه کولو فضیلت

د مسلمانانو دویم خلیفه، حضرت سَیِّدُنا عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ روایت کړې دي چې "چا د الله پاک جوماتونه روښانه کړل الله پاک به د هغهٔ قبر روښانه کړي او چا

چې جومات پۀ پاکه خوشبويۍ خوشبو دار کړو نو الله پاک به د هغۀ قبر ته د جَنَّت خوشبوئي داخله کړي-" (شرح الصدور بشرح حال الموتٰی والقبور، ص159 ملخصاً)

پۀ حديثِ پاک کښې بيان کړے شوي دي: " چا چې پۀ جومات کښې ډيوه بله کړه نو د څو پورې چې پۀ جومات کښې رڼا وي د هغې پورې عامې فرښتے او عرش پورته کوونکې خاص فرښتے د هغۀ د پاره د بخښنې دُعاګانې کوي- (تفسير کبير، پ10، التوبة: تحت الاية:18، 11/6)

اے د رَمَضَانُ المُبَارَک د مياشتې عاشقانو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د رَمَضَانُ المُبَارَک پۀ تشريف راوړو باندې پۀ ټوله دُنيا کښې دا مبارکه مياشت پۀ مختلف انداز کښې نمانځلے شي- پۀ ډيرو ملکونو کښې پۀ رَمَضَانُ المُبَارَک پۀ راتللو باندې پۀ کورونو، کوڅو کښې د " رَمَضَانُ المُبَارَک او د اَهلاً يا رمضان" وغيره نومونو ستکرې او د هِلالِ رمضان (يعنې د رَمَضَانُ المُبَارَک د مياشتې) بورډونه وغيره لګولے شي- ماشومان د نوو جامو پۀ اغوستو مختلف قنديلونه پۀ لاسونو کښې اخستي وي او پۀ کوڅو او محلو کښې د رَمَضَانُ المُبَارَک د مياشتې پۀ راتلو باندې اُمبارکۍ ورکوي او د رَمَضَانُ المُبَارَک د مياشتې پۀ راتلو باندې پۀ خوشحالۍ کولو پۀ نظر راځي- د سوشل ميډيا پۀ ذريعه پۀ مختلفو ملکونو مثلاً عرب شريف، مصر، عراق، شام، يمن، اماراتو وغيره کښې د رَمَضَانُ المُبَارَک پۀ راتلو باندې د خوشحالۍ او د سينګار مختلفې ويډيوګانې کتلے کيدے شي- ياد ساتئ چې د قرآنِ پاک د نازليدو پۀ مياشت " **رَمَضَانُ المُبَارَک** " او د نبي آخر الزمان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ولادت پۀ مياشت کښې د کورونو، کوڅو، محلو ښائسته کولو پۀ قرآنِ کريم او حديثونو کښې چرته هم منع نۀ ده راغلې، بلکې د قرآنِ کريم پۀ 8 سيپاره، سورةُ الاَعراف، آيت نمبر: 32 کښې اِرشاد دے:

﴿قُلۡ مَنۡ حَرَّمَ زِیۡنَۃَ اللّٰہِ الَّتِیۡۤ اَخۡرَجَ لِعِبَادِہٖ﴾ **ترجمهٔ کنزُ العِرفان:** تهٔ وفرمایه: د اللّٰه هغه سینګار چا حرام کړے دے کوم چې هغهٔ د خپلو بندګانو د پاره پیدا کړے دے؟ د قرآنِ پاک پهٔ تفسیر "**صراط الجنان**" کښې دي: د دې آیت نه معلومه شوه چې کوم څیز شریعت حرام نهٔ کړي هغه حلال دے- د حُرمت (یعنې د حرام کیدو) د پاره د دلیل ضرورت دے خو حلت (یعنې د حلال کیدو) د پاره هیڅ دلیل ضروري نهٔ دے- (تفسیر صراط الجنان، پ8، الاعراف، تحت الاية:32، 303/3)

## جَنَّت سینګارولے شي

پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: د سَیِّدُنا عبدُ اللّٰه ابنِ عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما نه روایت دے چې د مدینے د تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: بے شکه جَنَّت د کال د شروع نه د بَل کال پورې د رَمَضَانُ المُبَارَک د پاره سینګارولے شي-

(شعب الایمان 312/3، حدیث:3633)

## جَنَّت څوک سینګاروي؟

حضرت علامه علي قاري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: دا (یعنې جَنَّت) پهٔ سرو زرو سینګارولے شي او پهٔ حقیقي توګه د دې د سینګارولو نه اللّٰه پاک ښه خبر دے- (مرقاة المفاتیح، 458/4، تحت الحدیث: 1967)

مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: جَنَّت پخپله ښائسته دے بیا چې نور هم ښائسته کړے شي، بیا ښائسته کوونکي یې فرښتے وي نو دا به څنګه ښائسته کولے شي، د دې سینګار زمونږ پهٔ وهم او ګمان کښې هم نشي راتللے، بعضې مسلمانان پهٔ رَمَضَانُ المُبَارَک کښې جوماتونه سینګاروي، هلته چونا او رنګ کوي، جنډې لګوي، رڼا کوي د هغې اصل هم دا حدیث دے- (مرآة المناجیح، 143/3)

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د روژې میاشت " **شهرُ الله**" یعني د الله پاک میاشت ده، د دې میاشتې د اَدب او تعظیم د پاره چې څوک څومره کوشش کوي هغه به هُم هُغه همره زیات ثواب مومي- د الله پاک پهٔ رحمت سره د روژې د میاشتې پهٔ راتلو باندې چې څوک د محبت او تعظیم پهٔ وجه خپل کور سینګاروي هغه د الله پاک د رحمت حقدار جوړیږي ځکه چې د روژې د مبارکې میاشت سره محبت پهٔ اصل کښې د الله پاک سره محبت دے ځکه د دې میاشت سره محبت صرف د " **الله پاک د رضا** " د پاره وي، هم دا وجه ده چې پهٔ دې ښکلې میاشت کښې د عبادت ذوق او شوق زیات شي، پهٔ دې مبارکه میاشت کښې زړهٔ د عبادت د پاره تیاریږي او کوم خلق چې پهٔ ټول کال کښې هم د قرآنِ کریم د تِلاوت نه محرومه وي هغوئي هم د قرآنِ کریم د تِلاوت کولو سعادت حاصلوي، جوماتونه د نمونځ کوونکو نه ډکیږي او د پیشمني او روژه ماتي پهٔ وخت فضا ډیره زړهٔ راښکونکې شي، حضرت مفتي احمد یار خان رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ فرمائي: روژه د خلقو زړونه بدلوي ولې چې د دې د راتلو سره پهٔ جوماتونو کښې ګڼه جوړه شي، ډیر تِلاوت او ذِکر کیږي- یولس میاشتې وعظ (یعني بیان) هُغه اَثر نهٔ کوي کوم اَثر چې صرف د "**روژې راتلل**" کوي- (تفسیر نعیمی، پ2، البقرۃ، تحت الایۃ:185، 2/205)

## د الله پاک د پاره د محبت مثال

سیِّدُنا امام محمد بن محمد غزالي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ فرمائي: د چا سره د اخرت د مقصد د پاره محبت کول مثلاً د شاګرد د خپل اُستاذ سره یا د مُرید د خپل پیر سره دې د پاره محبت کول چې د هغوئي پهٔ ذریعه به هغه عِلم حاصل کړي او ښهٔ اعمال به اوکړے شي او پهٔ اخرت کښې به کامیاب شي نو دا محبت د الله پاک د پاره محبت دے- دغه شان د اُستاذ د خپل شاګرد سره دې د پاره محبت کول چې دا شاګرد د

عِلم د خوړولو ذريعه ده د کوم په وجه چې د الله پاک په دربار کښې عزت او عظمت ميلاؤيږي نو دا محبت هم د الله پاک د محبت په مد کښې شامل دے- اِمامِ غزالي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه په يو بل ځائے کښې فرمائي: څوک چې د الله پاک د رضا د پاره خوندور خوراکونه تيار کړي او د ښه ښه خوراکونو تيارولو په وجه د نوکر سره محبت کوي نو دا ګس به هم د الله پاک د رضا د پاره په محبت کوونکو کښې شميرلے کيږي-

(احياء العلوم 2/203، 204)

اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! علىٰ احسانهٖ و كرمهٖ! زمونږ هم د الله پاک د رضا د پاره د رمضان سره محبت دے، د رمضان حقيقي عاشق، باني دعوتِ اِسلامي حضرت علامه مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه په يو څو شعرونو کښې د رمضان سره د محبت اِظهار فرمائيلے دے، اوئې لولئ او د رَمَضَانُ المُبَارَک په محبت کښې ډير خوشحاله شئ:

مجھ کو رَمَضان سے مَحبّت ہے

میرے ربّ کی یہ خاص رَحمت ہے — مصطفٰے کی بڑی عنایت ہے
غوث و احمد رضا کی برکت ہے — مجھ کو رَمضان سے محبت ہے
ماہِ رمضاں سے جس کو اُلفت ہے — قابلِ رشک اُس کی قسمت ہے
بے شک اُس پر خدا کی رحمت ہے — قبر و محشر میں وہ سلامت ہے
ماہِ رمضاں جہاں میں پھر آیا — مغفرت کا پیام ہے لایا
رحمت حق کا ہوگیا سایہ — لحظہ لحظہ نزولِ رحمت ہے
خوب رونق ہے ماہِ غفراں کی — کیسی برکت ہے ماہِ قراں کی
واہ کیا بات ماہِ رمضاں کی — کیا ہی رمضاں کی شان و شوکت ہے
پہلا عشرہ ہے خاص رحمت کا — دوسرا مغفرت کا ہے عشرہ

تیسرے میں ملے گی آزادی نار سے اُس کو جس پہ رَحمت ہے
مسجدیں ہوگئی ہیں پھر آباد بڑھ گئی نیکیوں کی ہے تعداد
سرد بدیوں کا ہوگیا بازار بڑھ گیا جذبۂ عبادت ہے
واہ سحری کی کیا بہاریں ہیں خوب افطار کے نظارے ہیں
روزہ داروں کے وارے نیارے ہیں کیا تراویح کی بھی لذت ہے
ماہِ رمضاں کا غم عطا فرما یاخدا! چشم نم عطا فرما
ماہِ رمضاں کے عشق میں رونا دو جہاں کیلئے سعادت ہے
ماہِ رمضاں کے روزہ داروں کی خوش نصیبی ہے اور خوش بختی
اُس کو فیضانِ ماہِ رمضاں سے خلد ملتی ہے ملتی جنت ہے
مالک دو جہاں! پئے جاناں تو بنا اس کو عاشق رمضاں
ماہِ رمضاں کے عشق میں تڑپے عرضِ عطارؔ ربِّ عزت ہے

(وسائلِ فردوس، ص29، 30)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللہُ علیٰ مُحَمَّد

## پهٔ جوماتونو کښې ښکلاګاڼې

حضرت مفتي احمد یار خان رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: پهٔ تراویحو کښې د قرآنِ کریم د ختم پهٔ وخت پهٔ جومات کښې چراغان کول ډیر د ثواب کار دے چې دا هم د جومات پهٔ ابادولو کښې داخل دي- پهٔ مسجدِ نبوي کښې د ټولو نه وړومبے اعلیٰ فرش حضرت عمر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ جوړ کړےوو، د دې نه مخکښې صرف باجري وه- د دې د ټولو نه عالي شانه ودانۍ د ټولو نه وړومبے حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہُ جوړه کړې وه- پهٔ دې کښې د ټولو نه وړومبے قندیلونه تمیم داري (رَضِیَ اللہُ عَنْہُ) روښانه کړي وو- د حضرت عمر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ پهٔ دور کښې د رمضان د تراویح پهٔ موقع باندې

هغوئي چراغان اوکړل او حضرت علي (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ) عمرِ فاروق (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ) ته د قبر د نُور دُعا اوکړه (چې الله پاک دې ستاسو قبر روښانه کړي)- (صحابئ رسول) حضرت دِحیه کلبي (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ) به په مسجدِ نبوي کښې چراغان کول- دا ټول حضرات د الله پاک خوښ بندګان وو- (تفسیر نور العرفان، ص301)

## د روژې میاشت د شعائرُ الله نه ده

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د خوشحالۍ په موقع مثلاً د سالګرې یا وادهٔ وغیره په موقع باندې کورونه سینګارولے او په رڼاګانو روښانه کولے شي که د روژې د تعظیم د پاره په ښه ښه نیتونو سره خپل کورونه په لائټونو وغیره باندې ښکلي کړے شي نو د الله پاک په رحمت سره به مو ضرور ثواب کیږي- د روژې د میاشتې په راتللو باندې خوشحالي کول او د دې په تعظیم کښې کورونه، دکانونه سینګارول د سعادت مندو خلقو حصه ده ځکه چې رَمَضَانُ المُبَارَک په شعائر الله (یعنې د الله پاک په نخښو) کښې دے او د الله پاک د نخښو عزت او احترام کول د پرهیزګارو خلقو کار دے لکه څنګه چې په 17 سیپاره، سورة الحج، آیت نمبر: 32 کښې اِرشاد دے:

﴿وَمَنْ یُّعَظِّمْ شَعَآىٕرَ اللّٰهِ فَاِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ۝۳۲﴾ ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او څوک چې د الله د نخښو تعظیم اوکړي نو دا د زړونو د پرهیزګارۍ نه دهٔ-

په "تفسیرِ نعیمي" کښې دي: د شعائر نه هر هٰغه څیز مُراد دے د کوم تعظیم چې د رب د عبادت نخښه وي یا هٰغه نخښه د کومې د قیام چې رب حکم کړے وي لهذا هٰغه ځائے او هٰغه وخت او هٰغه نخښې کومې چې د دِین نخښې وي ټول شعائِرُ الله (یعنې د الله پاک نخښې) دي- کعبه، عرفات، مزدلفه، صفا، مَروه، مِنیٰ، جوماتونه د دِین د بزرګانو (رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہِم) مقابِر (یعنې مزارونه)، هم داسې روژه،

اختر، جُمعه وغیره د دِین شعائِر دي- (تفسیرِ نعیمی، 97/2 ملخصاً) بلکې د کومو ځیزونو چې د الله پاک د مقبولو بندګانو سره نسبت پیدا شي هغه هم شعائرُ الله (یعنې د الله پاک نخښې) جوړیږي د حضرت بي بي هاجره رَضِیَ اللہُ عَنۡہا ښپې مبارکې چې د صفا او مروه د غرونو سره ولګیدلې نو هُغه غرونه شعائر الله (یعنې د الله پاک نخښې) جوړې شوې د کومو بیان چې د قرآنِ کریم په دویمه سیپاره، د سورة البقرة په آیت نمبر: 158 کښې موجود دے-

## مهربانه میاشت

د رَب میلمنه " **د رمضان میاشت**" د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمت د پاره ډیره مهربانه او د رحمان رحمت دے چې د دې میاشتې هر یو ساعت د رحمت نه ډک دے، د روژه دار اودهٔ کیدل هم عبادت دے، د نفلو ثواب د فرضو برابر او د فرضو ثواب 70 چنده زیاتولے شي- په نورو میاشتو کښې خاص ورځې یا خاص شپې د برکت والا وي خو د دې مبارکې میاشت هره ورځ او هره شپه د رحمتونو او برکتونو درنګ دے، د نورو اِسلامي میاشتو تاریخ یاد نهٔ وي خو د دې مبارکې میاشتې هره یوه ورځ په شمیرلو شمیرلو تیرولے شي- د الله پاک مونږ ډیر شُکر ادا کوو چې هغه مونږ د خپل خوږ اخري نبي، مکي مَدَني مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اُمت کښې پیدا کړو او مونږ ته یې د رمضان نعمت راعطا کړو-

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د تیر یو یا دوو کالو راسې د رمضان د حقیقي عاشق امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په ترغیب باندې د عاشقانِ رسول د دِیني تنظیم دعوتِ اِسلامي د " مکتبة المدینه " د اړخ نه د رَمَضَانُ المُبَارَک په نسبت سره پینا فلیکس او

کارډونه تیارولے شي کوم چې د هغې د ایپ [1] نه د خپل کور نه د آرډر په ذریعه راغوښتلے کیدے او کورونه پرې سینګاریدے شي-

## د رمضان د میاشت سره د محبت ځانګړے مثال

په کال 2024 کښې د خلیجي ملک عرب امارات (دُبئي) حکومت د طرف نه په جاري شوي " خلیج نیوز" کښې چاپ شوي دې خبر د ډیرو عاشقانِ رسول زړونه خوشحاله کړل چې د رَمَضَانُ المُبَارَک د میاشتې په راتلو باندې چې څوک خپل کور د ټولو نه زیات ښائسته کړي هغه له به یو لاکھ درهم د اِنعام په توګه ورکولے شي، په دویم او دریم نمبر باندې د راتلونکو د پاره هم د اِنعامونو اِعلان اوکړے شو-

**د خبر پښتو ترجمه:** برانډ دُبئي (کومه چې د دُبئي حکومت د میډیا آفس یوه شعبه ده) او فِرجان دُبئي " د دُبئي د بهترینو سینګارونکو رمضان کورونو" د مقابلې د شروع کیدو اِعلان کړے دے- د دې مقابلې په ذریعه د دبئي اوسیدونکو کورنو ته دعوت ورکړے شوے دے چې هغوئي د رَمَضَانُ المُبَارَک په ټوله میاشت کښې خپل کورونه ښائسته او په رڼاګانو سینګار کړي په دې مقابله کښې یو څو ښکلي انعامونه ایښودے شوي دي، په کومو کښې چې به ❀ **وړومبي پوزیشن حاصلوونکي ته 100،000 درهم،**

❀ **دویم پوزیشن اخستونکي ته به 60،000 درهم**

❀ او **دریم پوزیشن اخستونکي ته به 40،000 درهم** ورکولے شي-

د وړومبو دریو انعامونو نه علاوه به 7 برخه اخستونکو کسانو ته د دوو کسانو د پاره د عمرې ټکټونه هم ورکولے شي- دا مقابله ترغیب ورکوي چې خپل کورونه

---

[1].... د مکتبة المدینه د اپلیکیشن ډاؤن لوډ کولو د پاره دا QR کوډ سکین کړئ:

پهٔ ښکلي انداز کښې سینګار کړئ او رَمَضَانُ المُبَارَک پهٔ ښه انداز کښې ونمانځئ- د رَمَضَانُ المُبَارَک د رخصتیدو نه یو څو ورځې مخکښې چې اداري کومو خلقو ته د خپلو کورونو د سینګارولو پیغامونه ولیږل، هغوئي له انعامونه ورکړے شول، د لوستونکو د رغبت پیدا کولو د پاره پهٔ دې مقابله کښې پهٔ وړومبي نمبر د راتلونکي کور تصویر (کوم چې د دې کتاب پهٔ ټائټل باندې موجود دے) او پوره خبر د QR کوډ پهٔ شکل کښې وړاندې کولے شي، د دې کور د ښائسته کوونکو وینا ده چې زمونږ د دې کور پهٔ ښائسته کولو تقریبا پینځه ورځې ولګیدلې-

## عبادت او د رمضان پهٔ احترام کښې اهتمام

صحابي نبي، حضرت تمیم داري رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ پهٔ خلور زره درهمه یو ګرانه او ښه جوړه اخستې وه نو چې کله به د لیلةُ القَدر ګمان شو نو پهٔ خصوصیت سره به یـې هُغه جامې اغوستلې او ټوله شپه به یـې پهٔ ذِکر او عبادت کښې تیروله-

(التهجد و قیام اللیل لابن ابي الدنیا، 311/1 ملخصاً)

اِمامِ ابو حنیفه حضرت نعمان بن ثابت رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہِ به د شپې د نـمونځ د پاره قیمتي قمیص، پرتوګ، عمامه او څادر پهٔ سر کولو د کومو قیمت چې پینځلس سوه درهمه وو، اِمام اعظم رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہِ به هره شپه نـمونځ پهٔ دې جامو کښې کولو او فرمائیل به یـې چې ”مونږ د خلقو سره پهٔ ښه جامو کښې میلاوېږو نو د اللہ پاک سره پهٔ ښو جامو کښې ملاقات ولې نهٔ کوو-“

(تفسیر روح البیان، پ8، الاعراف، تحت الآیة: 31، 154/3 ملخصاً)

## د روژې د میاشتې پهٔ لائټونو کښې احتیاط

اے د رَمَضَانُ المُبَارَک عاشقانو! که د رَمَضَانُ المُبَارَک سینګار وي او که د میلاد د میاشتې، د دې خبرې خیال ساتل ضروري دي چې کله د شپې ناوخته د خلقو ګڼه ګُڼه ختمه شي نو هٔغه وخت دې د کورونو سینګار (لائټونه وغیره) بند کړے شي ځکه چې د دې د رڼاګانو مقصد د خلقو پهٔ زړونو کښې د رمضان عظمت او اِحترام او د میلاد شریف پهٔ میاشت کښې د حضرت بي بي آمنه رَضِیَ اللہُ عَنۡھا د سترګو د تور، د الله پاک د محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دُنیا ته پهٔ تشریف راوړلو د خوشحالۍ اِظهار کول وي، کله چې د خلقو تګ راتګ ختم شي نو ګویا چې د سینګار مقصد پوره شو- ځکه د خپلو خپلو علاقو د دستور او حالاتو مطابق لائټونه بند کړئ-

## د جومات پهٔ چنده باندې د رمضان سینګار

امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُھُمُ الۡعَالِیَه پهٔ خپل کتاب " چندے کے بارے میں سوال جواب" کښې لیکلي دي: که د چندې ورکوونکو صَراحةً یا دلالةً اِجازت وي نو کولے یې شې ګنې نهٔ یې شې کولے- د صَراحةً نه مُراد دا دے چې د جومات د پاره د چندې اخستو پهٔ وخت ووئیلے شي چې مونږ به ستاسو پهٔ چنده د جشنِ ولادت او یولسمې شریف، شبِ براءَت وغیره د لوئي شپو پهٔ موقعو او د دې سره سره پهٔ رَمَضَانُ المُبَارَک کښې جومات هم ښائسته کوو او هغه اجازت درکړو- د دلالةً نه مُراد دا دے چې چنده ورکوونکي ته معلومه وي چې پهٔ دې جومات کښې د جشنِ ولادت او نورو لوئي شپو پهٔ موقعو باندې او پهٔ رَمَضَانُ المُبَارَک کښې چراغان کیږي او پهٔ هغې کښې هُم د جومات چنده اِستعمالولے شي- خیر پهٔ دې کښې دے چې د چراغان وغیره د پاره بیله چنده اوکړے شي، خومره چنده چې اوکړے شي د

هغې چراغان دې اوکړے شي او په چراغان کولو کښې چې کومه بجلي اِستعماليږي د هغې پيسې دې هم د هغې نه ورکړے شي- (چندے کے بارے میں سوال جواب، ص20)

## د کور جومات جوړول سُنَّت دي

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! په کور کښې چې کوم ځائے د نـمونځ د پاره وټاکلے شي هغې ته "مسجدِ بيت" وئيلے شي- (فتاویٰ رضویه، 479/22 ملخصاً) د الله پاک د اخري نبي صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد مبارک دے: "کله چې په تاسو کښې يو ګس په خپل جومات کښې نـمونځ ادا کړي نو هغه له پکار دي چې د خپل کور د پاره په نـمونځ کښې څۀ حصه بچ وساتي ځکه چې الله پاک به د هغۀ د نـمونځ په وجه د هغۀ په کور کښې خير او برکت پيدا کړي-" (مسلم، ص306، حديث:1822)

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د مخکښيني پاک دور د مسلمانانو په کورونو کښې به مسجدِ بيت (يعنې د کور جومات) وو- افسوس چې اوس خو په کورونو کښې بيډ روم، ډرائنګ روم، ډريسنګ روم، سټډي روم، فِټنس روم، ټي وي لاؤنج او پته نۀ لګي چې څۀ څۀ جوړولے شي! که نۀ جوړيږي نو "مسجدِ بيت" او "د اوداسه ځائے" نۀ جوړولے کيږي- همت اوکړئ! د ښه ښه نيتونو سره په خپلو خپلو کورونو کښې مسجدِ بيت جوړ کړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ- په "بهارِ شريعت" کښې د مسجدِ بيت په ترغيب ورکولو ليکلے شوي دي: "د زنانه د پاره دا مستحب هم دي چې په کور کښې د نـمونځ کولو د پاره څۀ ځائے مقرر کړي او پکار دي چې هغه ځائے صفا سوتره وساتي او بهتره دا ده چې هغه ځائے د چبوترې وغيره په شان اوچت کړي- بلکې نارينه له هم پکار دي چې د نفلونو د پاره په کور کښې ځائے مقرر کړي ولې چې نفلونه په کور کښې کول افضل دي-" (درمختار مع ردالمحتار، 494/3، بهارِ شريعت، 1021/1، حصه:5)

یاد ساتئ چې د مسجدِ بیت د پاره ټوله کمره جائز خو ده خو ضروري نۀ ده، پۀ یوه کمره چې دومره ځائے مقرر کړے شي چې یو کَس پکښې نـمونځ کولے شي نو هم کافي دے، د دې بیله وداني وغیره جوړول هم ضروري نۀ دي- (فیضانِ نماز، ص532 بتغیرٍ)

د نورو معلوماتو د پاره د دعوتِ اِسلامي د ویب سائټ نه رساله " پۀ کورونو کښې جومات جوړول سُنَّت دي" ولولئ او د ثواب پۀ نیت باندې یـې د نورو سره هم شیئر کړئ-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ علٰی مُحَمَّد

## د رَمَضَانُ المُبَارَک د سینګار کوونکو د پاره د امیرِ اهلِسُنَّت پیغام او دُعا

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم ط یوه ډیره ښکلې، نا اشنا او د خوشحالو نه ډکه خبره عرض کووم- اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! د روژې میاشت تشریف راوړونکې ده- یو ډیر عزت منده میلمه تشریف راوړي- میلمه چې کله راځي نو سینګار ښه ښکاري، خومره به ښه وي چې د رمضان د راتللو نه مخکښې مونږ خپل کورونه، دکانونه وغیره ښائسته کړو او د رَمَضَانُ المُبَارَک د هر کلي تیارئ اوکړو-

پۀ دې کښې د دې خبرو خیال ساتل ضروري دي چې هر کَس دې د خپل جیب نه د رَمَضَانُ المُبَارَک پۀ خوشحالئ کښې خپل کور وغیره ښائسته کړي، که کوڅې هم ښائسته کولے شي نو دا هم ښه خبره ده خو دا خبره پۀ ذِهن کښې ساتئ چې که د چا سره د جشنِ ولادت د سینګار د پاره د چندې پیسې وي نو دا پیسې د بَل څۀ مقصد د پاره اِستعمالیدے نۀ شي- پۀ رَمَضَانُ المُبَارَک کښې د دې عرفاً اِجازت نشته، ځکه د چندې پۀ پیسو باندې داسې قِسمه سینګار نشي کیدے- که د عرف نه علاوه د جومات یا د مدرسې چنده اِستعمال کړے شوه نو دا به ګناه وي-

الله پاک دې د رَمَضَانُ المُبَارَک خوشحالئ یو پهٔ دوه کړي- تولې ادارې او انجمنونه دې پهٔ خپله خپله توګه سینګار اوکړي، د جشنِ ولادت او رَمَضَانُ المُبَارَک پهٔ سینګار کښې فرق پکار دے د پاره د دې چې پهٔ دواړو کښې امتیاز باقي پاتې شي مثلاً داسې قِسمه بورډونه ولګوئ پهٔ کوم باندې چې "**رَمَضَانُ المُبَارَک مو اُمبارک شه**" لیکلي وي، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! ما هم د خپلې غریب خانې د سینګارولو نیت کړے دے-

یا الله پاکه! څوک چې د روژې پهٔ میاشت کښې خپل کور، دُکان یا محله ښائسته کړي، د هغهٔ د وفات کیدو نه پس د هغهٔ قبر د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے (صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) پهٔ نُور باندې د قیامته پورې منور او روښانه کړې-

میں نے گھر کو سجالیا سن لو، آؤ خوشیوں کے پھول سب چن لو
کاش! ہوجائے خوش مِرا رحماں، واہ! کیا بات ماہِ رمضاں کی

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللهُ علٰی مُحَمَّد

د داروانې هفتې رساله




فيضان مدينه محله سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچي.
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net